آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۱/۰۴

# د ژوند پانګه

زما د ټول ژوند
تولـه پانګه
دوه سره لالونه وو، بس

دغه لالونه په قیمت کې برابر وو
لکه زړه او وطن

تا را نه واخیست د زړه لال
بس د خندا په یو نیمکه باندې

او دښمن واخیسته، وطن را نه بس خوشي تشي
او زه بې زړه بې وطن
د دنیا پای ته رسیدلی یمه

داسي غریب یم، چي نه زړه او نه وطن لرمه
لکه بڼکه سپک یم

که مي باد لږ شانتي ور پورې وهي
نور تر اوبو لاندې یم

۲۰۰۱/۰۱/۰۱ فریدرکس هاون ، ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ